# دپښتو ژبې اوادب موقف د مرکزي

## ایشیا د خلکو په تمدنونو کښې

پښتو ژبه د آریایي ژبو په ډله کښې د ایرانـي او هنـدي څـانګې تـر منځ یوه مستقله او پخوانۍ ژبـه ده، چـې مـوږ ئـې پـه ډیـرو لغـوي او تاریخي دلایلو نه له ایرانیو ژبو څخه بولو نه له هندیو ژبو څخه.

بلکې که موږ دلته د بـاختریو ژبـو یـوه څانګـه د هنـدیو او ایرانیـو ژبو او ویښتونو (لهجو) ترمنځ ومنو نو بـه پښتـو ددغـو ژبـو ډلـه کښـې وګڼله سي.

پښتو پسله هغو وختو چې آریـایي وګـړي لـه افغانسـتانه د شـرق او غرب خواته (۲۵۰۰) کاله تر میلاد دمخه په لیږدنه بوخت وه په دې سـیمه کښې پاته ده او ځکه چې وروسته بیا هم دغه سـیمه د هنـد دکوچنـۍ وچې او ایران او ترکستان تر منځ د تګ او راتګ اوتجارت او فتوحاتو لار وه او د وربښمـو مشـهوره لار او هنـد د نوکـو لار دواړې تـر دې سیمي تیرېدې نو د پښتنو روابط هم څـه نـه څـه د شـرق او شـمال او مغرب د خلکو سره وو. آریایي اقوام د آمو له هغه خوا څخه دلته راغلـي

وو ددوي د کرني د دورې ابتداء هم دلته سوي وه، او دوي چې هغه خپله پخواني مېنه آریا ویجه بلله دا کلمه تراوسه هم په پښتو کښې ژوندۍ ده، او د پښتو ژبې پر پخواني توب او په آریایي ژوند او ژواک کښې یې پر اهمیت یوه ښکاره نخښه ده، کله چې آرایي اقوام د هنداو ایران پر خواوو باندې خپاره سول او په تاریخي دوره ئې پیل وکی نوبیا مو ږ ګورو چې د وید او اوستا په کتابو کښې د پښتنو د پخواني نوم پکهت او ددوي د کلتور او د مشرانو او ځایونو د نومونو او ددوي د پخوانو سندرو او دیني دودونو او د پخوانو ارباب انواعو نومونه او یادوني داسې سویدي لکه دوي چې د آریایي ژواک او مدنیت شمزۍ وو.

دوي خپلې شرقي نیولې سیمې یعني شمالي هند، آریا ورشه وباله چې دغه د پښتنو آریه ورشو ده یعني د آریایي خلکو د څړ ځای.

په آریایي قدیمو کتابو ویدا- اوستا- مهابهارت- اوپرانو اوپهلوي کتابو کښې داسې کلمات او آثار مومو چې د پښتو دزاړه ادب اصالت په خورا پخوانو زمانو کښې راښئي تردې ځایه چې د زړې پارسو په ډبرلیکونو کښې چې د ایران د هخامنشي پاچا لوي داریوش (۵۲۲ – ۴۸۶ ق م ) څخه د بغستان ( بیستون) پر غره کیندلي پاته دي یوه سندره داسې ده، چې په ډیر لږ اوښتنه کټ مټ پښتو ده، داریوش هخامنشي حکمدار په خپل یوه ډبر لیک وایي :

| | |
|---|---|
| ني اریکه اهم | ( نه ئې اړیکي وم ) |
| ني دروجنه اهم | ( نه ئې دوره جن وم ) |
| ني زوره که ره اهم | ( نه ئې زوره کړوني وم ) |
| ني ادم ني زمي توما | ( نه زه نه مي تومنه ) |
| اوپاري ارشتام او پري یام | ( د رښتیا له پاره (یم) وپري یم ) |

( دکنت او لډپرشن ۱۹۲ د امريکا طبع )

د مرکزي ايشيا آريايي خلك چي د هند شمالي سيمي ونيوي نو دوي د هغه ځاي پخواني او سېدونکي چي مؤرخان ئې دراويډون بولي پخپله ژبه سودر وبلل چي د دوي په منښت ناملموس او ترټلي وو دغه کلمه تراوسه لاهم په پښتو کښي د سوډر په ډول سته چي هر ناسولټه او ناپوهه اوبدکړوني سړی ته ويل کيږي.

ددوي په هندي پيدا سوي تمدن کي طبقاتي توپير هم ورپېښ سو او درې ډلي سوې چي دا هم ددوي د طبقاتي دورې لومړی پېښه وه اوله ډله روحاني اوستانه برهمنان وو چي اوس ئې په پښتو بريمنان بولو او دوهمه طبقه لښکري خلك او اداري مشران وو ددوي کار توره او جګړه وه او کشتري يې بلل يعني کښ - توري چي توركښان وو، دريمه ډله کسبه او خواري کښان او صنعت کاران او د بازار او تجارت خلك وو چي ويسيه يې بلل يعني د ويسا وړ او د ويسا خاوندان. په پښتو پخواني ادب کښي د ۱۶۰ ق په شاوخوا کښي د کښه تور کلمه په يوه بيت کښي راغلې ده چي کابلشاه ويلې وه.

او دا ښکاره کوي چي د پښتو ادب اثرونه د شرقي آريايي اقوامو په مدنيت کښي دوني ډير وه چي ددوي په طبقاتي ژوندانه کښي د غه ردې کلمې په همدغه معنا ورننوتلې وي.

د ويدا په يوه برخه ريګ ويد کښي د لسو قبيلو د جنګ پېښه راغلې ده چي په دغو کښي يوه د پکهت قبيله وه او ددوی ديوه حکمدار نوم تورو يانه يعني توروهوني و چي دغه پکهت د پښتون قبيله وه. که څه هم د افغان تاريخي يادونه په تاريخ کښي خورا زړه ده د ايران د ساساني کهول لومړنی شاپور او ددې کورنۍ دوهم حکمدار تر ۲۶۰ م وروسته دکعبه زردشت پر ډبرينو ديوالو په اشکاني پارتي او

یوناني یو ډېرلیک لري چي دکوشاني مملکت په یادونه کښې د یوه افغاني سپه سالار "وینده فرن ابگان رزمه ود" نوم (۱) راوړي ( د ډېرلیک شپږمه برخه) سپرنگ لنگ ختیځي پوهاند د امریکا په سامي مجله کښي په ۱۹۴۰ م لیکي چي دغه سپه سالار افغان و اوهم دریم ساساني شاه پور چي له ۳۰۹ تر ۳۷۹ م کاله ئې حکمراني کړېده دده د نامه سره یو صفت یا یولقب اپکان لیدل کیږي چي دغه بـه هـم افغـان وي او د فردوسي په شاهنامه کښي هم دوه واره راغلی دی :

سپه دار چون قـــــارن کاوگان
سپه کش چو شیروي وچون اوگان

( ۱۱۰/۱ طبع مسکو )

د فریدون په داستان کښي وایي :

سپه دار چون قارن کاوگان
به پیش سپاه اندرون اوگان

(۱۱۶/۱)

په دې ډول اوگان یا ابغان یا اوغان، افغان په قدیمو روایاتو کښـي د هغه عصر دتمدن د یوه غړی پـه ډول د سـالارانو او حکمرانـانو پـه ډلـه کښي یاد سوی دی چـي یوسـتی ئـې اصـل د اوسـتا اوه د مهربـان او مرستیال په معني راوړی، او بیا موږ وینو چي دغه نوم د ۵۰۵ م پـه شـا وخوا کښي د هندي مـنجم او شـاعر ورهـامي هیـرا پـه کتـاب بهریتـه سنهیته په ۱۱ – ۶۱ او ۱۶ – ۳۱ بیتو کښي د اوه گانـه پـه شـکل راغلـي دي، او لکه مسیوفوشه چي د هند او بـاختر د زړو لارو پـه کتـاب ( ص ۲۳۵ نوټ ۱۷ ) طبع پاریس ۱۹۴۷ م کښي وایي دغه منجم په ۵۸۷ م مړ سویدی نـو د افغـان نـوم او د دوي برخـه د هنـد او ایـران پـه مـدني حرکتو کښي لږ تر لږه (۱۵۰۰) کاله عمر لري او تر دې وروسته د چـین

زائر هین تسنګ په ۲۵ جون ۶۴۴ م د بنون او غزنه تر منځ د او –یو – کین سیمي ته راغلی ؤ چي په سي –یو – کي خپلو خاطراتو کښي د ( ۲۶۵/۱ ) دغه نوم راوړی او ددوی د ژوندانه او حکومت او فرهنګ بیان کوي چي مراد ئې دغه افغان دی.

دغه د پښتو ژبي او افغان د مدني او فرهنګي ژوندانه څرکونه تر میلادي عصر وروسته ډېر دي مګر موږ یو دوه نور سندونه هم لرو چي د پښتو ژبي برخه د اسکندر تر زمانې لږ را وروسته هم ښئي د اسکندر په باختري چانشینانو کښي مینا ندیر په هوپیان کښي زېږېدلی ؤ او د ۱۹۰ ق م په شاوخوا کښي يې د مشهور د یمتریوس د جنرال په ډول د هند ځیني سیمي نیولي او دده کهاله تر ۱۰۰ ق م پوري په هند کښي حکمراني کوله چي په دې عصر کښي د باختر د هند تر فرهنګي اغېزې لاندي سول، د سترابو په قول میناندیر ډېري هندي قبیلې ایلي کړې او په هندي روایاتو کښي دده نوم میلیندا دی چي د بودا دین ئې هم منلی ؤ.

ده د بودائي مشهور فیلسوف ناګه سینه څخه ځیني پوښتني کړي او خبري ئې ورسره کړي دي یعني Dialogue چي په هندي ئې Milinda-panha بولي یعني دی میلیندا پوښتني.

دغه کتاب د سیلوین لیوي او راجت ستارام پنډت په قول په زړه پښتو کښل سوي و خو وروسته په پالي ژبه ترجمه سو او له دې ترجمې څخه په چیني ژبه دوې نسخې د ۵ – ۷ قرن سته چي وروسته به ترجمه سوي وي اما پالي ترجمې ئې په سیلون او برما او سیام کښي په لاس راځي او پالي خورا زړه ترجمه ئې په څلرم قرن کښي سوېده، د جاپان په یوه معبد کښي پیدا سوېده ( دراجه ترنګیني انګریزي ترجمه ۷۴۵ مخ دهلي ۱۹۶۸ م ). میناندیرد پلوتارک په قول په دې خپلو

ادبي او دیني چارو دوني محبوب سو چي تـر مـرگ وروسـته دده پـر جنازه جگړه پېښه سوه اوپه پای کښي یې دده ایرې پـه مساوي ډول پـر رعایا وو ویشلې.

داچي د میناندیر او دبودایي ستانه ناگه سینه خبري اتري پـه پښتـو کښلي سوي او بیا په پالي او نورو هندي ژبو ترجمـه سـویدي پخپلـه دا خبره ښه ښکاره کوي چي د پښتو ژبې موقف د باختر او هند په تمـدني غورځنگونو او فکري مبادلاتو کښي څوني وُ.

د پښتونخوا د قدامت او په مدني حرکاتو کښي د برخـي بـل زوږ دلیـل دادی چـي د ۳۵۰ م پـه شـاوخوا کښـي پـاني نـې د سنسـکریټ گرامروال چي د اباسین پر غاړو زوکړي او لوي سوي وُ پخپـل کتـاب ( اته ویناوي ) ( ج ۳ وینا ۵ ) د کپیشه او بالهیکه (بلخ) تر مـنځ روهیتـا گیري ( یعني د روه غر) ذکـر کـوي او روه پـه پخـواني ادب کښـي او تراوسه لا هم دغه د افغانستان او د پښتنو مځکه ده چـي پـه هنـد کښـي پښتانه ته روهیله او ځای ته یې روهیـل کهنـډ وایـي او روه د غـره معنـا لري ( هندته) پانې پانی کاته ص ۴۸ لکهنو ۱۹۵۳ م )

عجیبه خو داده چي عین دغه روه نوم په مهابهارته حماسـي هنـدی کتاب د ۱۲۰۰ ق م په حدودو کښي هم لوهه راغلی دی چـي د روه یـوه هندی سوی شکل دی د مهابهارته په ۲۶ سبا کښي لوهـا دغـه اوسـني افغانستان دی ( د هند جغرافي قاموس ۱۱۵ مخ د نندولال تالیف دهلـي ۱۹۷۱ ) او محمد قاسم فرشته وایي چـي روه پـه اوږدوالـی لـه سـواته او باجوړه تر سیوی او د بکر تر سیمو پوري رسېږي او په پساره لـه حسـن ابداله تر کندهاره ده ( تـاریخ فرشـته – ۱ /۳۰ بمبـی ۱۸۳۲) د پښتـو ژبې د ادب او د پښتنو د کلتور بولگی خو د شرقي او غربي آریائیـانو پـه ژبو او تمدنو کښي وښوولې سوې او له دغه اوږدې د څېړني وړ خبري

ښخه فقط یو څو مثالونه راوړل سوه چي زمـوږ دغـه څیړنـه اوږده نـه سي. د افسوس یوه خبره چيْ تراسلام دمخه د پښتو ادب کومـه کښلـې او ضبط سوي نمونه زموږ لاس ته تر اوسه نه ده راغلې او دا هم نـه ده معلومه چي د زړې پښتو لیک دود به څنګه و. تر اسلام دمخه خو دلته یوناني دیوه ناګری، خروشتهي، ارامی او ځني نور لیـک دودونـه پیـدا سویدي، خو د پښتو تر ټولو دمخنی ادبی‌اثر چي اوس موږ لـرو د پټـې خزانې له برکته د غور د یوه مشر امیر کروړ پښتـو ویاړنـه ( حماسـه) ده چي د ( ۱۴۰ ق ) یعني د اتم میلادي قـرن د مـنځ یـوه ادبـي حماسـي نخښه ده. له دغه وخته د دری ژبي اثار خورا لږ دي خـو د افغانسـتان په غربي اوشمالي برخو کښي پهلوي ژبه هم ویله کېـده او هـم کښلـه کېده او هم په شرقي څنډو کښي د سنسکریټ رسم الخطونـه او ژبـه او هم ځني محلي ژبي ویلي او کښلي کېدې.

د امیر کروړ ویاړنه چي د پښتو ادب یوه زړه نمونه ده د نـورو ژبـو او په خاص کړه بیا د اریایي ژبو د پهلوانی د دورې د ادب سـره څـنګ پر څنګ دربړي حماسي اشعار د دنیا د پخوانو ژبـو غـوره آثـار دي او کله چي غنایي او لیریک اشعار یعني سندري په یوه ټولنه کښـي پیـدا کیږي نو ددوی د اجتماعي او اقتصادي ژوندانه د لوازمو سره حماسي شعرونه چي په پخوانی پښتو ئې ویاړنه بولي هم پیدا کیږي.

نو لکه چي په غربي لېږدېدلو آریائیانو کښي چي پسله اورپید غنـایي یونـاني شـاعره پـه ۹ ق م کښـي د هـومر حماسـي اوجنګـي اشـعار ایلیاد او اودیسه پیداسوه او بیا نو په اتم ق م کښي د هي سید عشـقي او اخلاقي سندری ( ورخـي اوچـاري) وزېږېـدي او پـه شـرقي لېږدېـدلو آرئیانو .کښي د ویدا تـر سـندرو وروسـته پـه هنـد کښـي د رامـاین او مهابهارت حماسي او قصصي ادبیات شروع سوه، په پښتو کښي هم موږ

د آریائیانو له تمدنه سره اوړه پر اوړه داسي نظائر او سره ورته سندري لرو چي د منځنی ایشیا په ادبی کړی، ښکنبي د ویدا او اوستا او د زړې پاړسو او سنسکریټ او نورو آریایي پخوانو ژبو تر منځ یو نښتی د سروزرو ځنځیر ګنل کیدای سي او د شرقي اوغربي تللو اریائیانو د مدنیت اوتفکر او کلتور کړی سره نښلوی.

د ریگویدا په اوم باب ۶ فصل ۶-۷ وینا ښکنبي داسي راغلي دي :

" خدای تعالی د ژوندانه واکمن دی

د ملك خاوند دی.

دې سړو ته ښاغلی کورنی ورکوي.

خدایه ! موږ ستا مریي یو.

بې اولاده بې ښېګنې مو مه وژنې ! "

د ریگویدا دا زړه سندره د هند د تمدن د لیکوال ګوستاولوبون په قول د زاړه آریایي فکر د کورنی، ډېرولو یوه نمونه ده خو کـه پـه پښتـو زاړه ادب ښکنبي د سلیمان ماکو د تـذکرې دغـه د بیـټ نیکـه زړه سـندره ورسره پرتله سي داسي ښکاري چي دواړه د یوه قوم د یوه راز اندېښنې دوې نمونې دي :

لويه خدايه ! لويه خدايه !	ستا په مينه په هر ځـــايه
غر ولاړ دی درناوي کــي	تولـه ژوي په ځاري کــــي
دلته دي دغـــــــرو لمني	زموږ کړدی، دي پکي پلني

دا وګړي ډېر کړې خدايه !

لويه خدايه ! لويه خدايه !

پـه حماسـي ادب ښکنبـي د ویـاړني هغـه احساسـات او انـدېښنې ځرګندیږي چي د پهلواني اوفیوډالي ژونـد د قـدرت ښکارنـدوی دی. دلته د مالکیـت او کرنـي او صـنعت دوره شـروع سـوېده د مځکـو او

تولیداتو پر مالکیت کله کله جګړې هم نښلي او دلته نو د جنسي خنجي (تمایل) بناء هم کله پر زور او کله پر مینه پر متقابل حسب او نسب ده. د زور خاوندان او پهلوانان او وسله والان د خپلي اقتصادي زیرمي یا جنګي قدرت او همد دښمن د بیروني او ترټني لپاره په ویاړنه لاس پوري کوي او خپل طبقوي تفوق ښئي. د هند په ادبي حماسي کتابو کښي چي د فیوډال توب د دورې ښکارندوی دي اوهم د اوستا او پهلوي په شاهنامو کښي داسي ویاړني لیدلي کیږي :

داریوش د بغستان په ډبرلیک کښي داسي ویاړي :

( زه داریـوش یـم سـتر پادشـاه د شاهنشـاهانو شـاه د پـارس پاچـا د هیوادنو پاچا )

د فردوسي شاهنامه اساساً یو حماسي اثر دی چـي ددنیـا پـه ادب کښي هم لوړ مقام لري ددې ویاړني د وقوع ځایونه او رجال اکثـراً د افغانستان دی دلته یې زه ویاړنه د زابلي رستم له خولي راوړم :

بمردي بیستم کمر برمیـــــان
همي رفتم از پس چوشیر ژیـــان
شنیدي که در هتفخوان پیش مـن
چه امد زشیران واز اهرمـــــن
بچاره بروئین د ژاندرشـــــدم
جهاني بران گونه برهـــم زدم
بجستم همه کین ایرانیـــــان
بخون بزرگان ببستم میـــــان
بتوران وچین انچه من کـــرده ام
همان رنج وسختي که من برده ام
هما ناند بدست گوراز پلنـــگ

نه از شست ملاح کام نهنگ
به تنها تن خويش جستم نبرد
بپرخاش تيمار من کس نخورد

**(شاهنامه ۴ / ۲۶۱)**

**داسي وياړني په شاهنامه او درى ادب کښي خورا ډيرى دي او د پښتو ادب خورا پخوانى پيدا سوې ټوټه هم دغسي يوه وياړنه ده چي د جهان پهلوان امير کروړ غورى څخه پاته ده :**

زه يم زمرى پر دې نړۍ له ما اتل نسته
په هند و سند و پر تخار او پر کابل نسته
بل په زابل نسته له ما اتل نسته

**( پټه خزانه)**

**د امير کروړ دا حماسي سندره ( وياړنه ) د پښتو ادب د درى او هندى اريايي ادابو او د منځنۍ ايشيا له نورو پاتو وياړونو سره نښلوى او که يې مورږ د پرتلې او مقايسې په تاله کښي واچوو نو تر نورو وياړونو نه پاتيږي بلکه د محتوا او فورم په لحاظ او دا چي خالصي پښتو ته نژدې ده نو پخپله نوعه کښي تر ټولو غوره او قوي هم ده او دا وياړنه د منځنۍ ايشيا د ابومسلم هغه غورځنګ هم را په يادوي چي د بغداد او اسلامي د نيا د سياست مخه ئې پربله خوا راواړوله او د عباسي خلافت د تمدن او کلتور دوره شروع سوه چي د ايشيا بلکي ددنيا د مدنيت په تاريخ کښي يو رڼه پاڼه ده او دا هغه پيښه ده چي د پښتو ادب يې د ايشيا د تمدن په تاريخ کښي د يوې برخي خاوند کړيدى.**

**د اسلام تر فتوحاتو وروسته په دوهمه او دريمه پيړۍ کښي عربي ژبه هم افغانستان ته راورسېده چي ددې ځاي د خلکو ديني او علمي ژبه سوه، په سوو داسي پوهان دلته پيدا سوه چي ترخپلو عربو ئې**

دغي ژبي او اسلامي پوهنو ته ستر خدمتونه وکړل. دلته د پښتو ادب پر دغي ژبي او ادب هم اثر وکی او دغسي هم عربي زموږ پښتو ژبه په داسي ډول اغېزه منه کړه چي په سوو عربي کلمات په پښتو ادب راګډ سول. د هندي آریایي قبایلو په ډله کښي ډم (ډوم) مطرب او دکلي د اجتماعي نائي او پخلونکی و. دا کلمه د پښتو او د پښتنو د کلتور یوه مهمه نخښه ده چي په هندي تمدن کښي ور ننوتلې ده پښتانه ډول وهونکی ډم او مشاطه ډمه بولي یو شاعر وایي :

ډمی ! ګوتی په ویښتانو کي په ورو وړه
په هر ول کي د کـــــــوڅیو زما زړه دی

له دې کلمې څخه په پښتو ډمبک، ډمامه او نور کلمات جوړ سویدي ابن خردازبه د عربو جغرافیا نګار وایي : (ص ۷۱) چي هندیان دې ډلي ته ذنب وایي چي ددغه ډم او ډمب یو معرب شکل دی او دا کلمه هم رابښئي چي د پښتو ادب اثرونه او مقام د آریائیانو په مدني حرکتونو کښي څوني ؤ، چي حتي عربي ته هم رسېدلي وو.

د پښتو ژبي په ادبي قدیمو انتقالاتو کښي د کوټوال کلمه هم ده چي د پښتو کوټ + وال څخه په غزنوی دوره کښي زر کاله دمخه جوړه سوېده او په دري ادب ور ننوته ناصر خسرو بلخي ویلي دي :

جز بدین اندر نیا بي راستــــــي
ارستي شد حصن دین را کوتوال

په افغانستان کښي ځیني کوچي خلک د جیټ په نامه شاوخواګرزي دغه ګرزندوی خلک پښتو هم وایي دوي به له افغانستانه د ایران له جنوبه عربستان ته هم تله او د تجارتي اوکلتوري انتقالاتو وسیله وه دغه نوم په عربي کښي زط سو (مفاتیح العلوم ۷۴) اومنسوب ئې زوطی باله د پېغمبر (صلعم) په وختو کښي یوه زط طبیب د حضرت

عایشي علاج کاوه ( الادب المفرد بخاري ۳۵ ) بنیا او بنیه ګریوه آریایي د پښتو او دری او هندي مشترکه کلمه ده بزرګ بن شهریار د ۳۰۰ ق په شاوخوا کښې پخپل عجائب الهند (ص ۱۱۸) کښې دغه پښتو او اریایي کلمه بنیانیه د جمع په ډول راوړې چې مراد ئې بنیه ګران او سودا ګران دي، او دا په اقتصادي راکړه ورکړه کښې د پښتو دکلتور یوه اغېزه پر عربي ژبې باندي ده، دغسي هم د سندهي بهات او بته په عربي مدنیت او ژبه کښې له پښتو څخه ورغلې او بهطه سوه (مفاتیح العلوم ۱۷۷) اوکله چې بودائي دین د اشوکا په سیاسي قوت په افغانستان کښې پسله ۲۶۰ ق م خپور سو نو خلکو د بودا مجسمې دپرستش لپاره جوړي کړې، چي ډیري به ښکلي وې، وروسته هره مجسمه بد جمع بدده وبلل سوه ( الفهرست ۳۴۷) او له دې کلمې څخه په دری او پښتو د بت کلمه جوړه سوه او هر ښکلی محبوب ئې په ادب کښې بت وباله جامي وایي :

آن بت نمود عکس رخ خود در آینـــــــه
من بت پرست گشتم واوخود بت پرست شد

او ځکه چې دغسي ښکلي بُتان په ګندهارا کښې جوړېدل او اوس هم دګندهارا تر هري غونډۍ لاندي پیدا کیږي نو بت کندهار په دری ادب د حسن مظهر سو ، نظامي وایي :

بهاري درو دیده چون نوبهار
پرستش ګهي نام او قنــدهار
عروسان بُت روي دروي بسی
پرستنده بُت شده هر کســـی

مسعود د سعدسلمان د غزني زنداني شاعر وايي :

هر هفته باد چشني وايام ملک ازان
آراسته چو بُتکده قندهار بـــــاد

فردوسي وايي :

نباشد چو آن بُت بکابل نـــگار
مه در چنین ستان ونه د رقندهار

( ص ۱۰۶ شاهنامه بایسنغري خطي )

له دې کلمې څخه په پښتو ادب کښي بودتون جوړ سو چـي معنـی ئې بُتکده ده او د غوریانو په پښتو ادب کښي راغلې ده.

په عجائب الهند او مروج الذهب کښي یوه عربي سوې پښتو کلمـه هنرمن راغلې ده. چي په سیاسـي او اداري کلتـور کښـي ددې ژبـي د اجتماعي پلن والی یوه نمونه ده، په دریم هجري قرن کښي مسـلمانانو د هند د بحیره عرب پر غاړه د چیمور په ښار کښي یو مسجد جوړ کی او د هغه ځاي راجه یو مسلمان عباس د ماهـان زوی ددې ځـاي دپـاره هنرمن مقرر کی،( عجائب ۱۴۴ مروج ۲/ ۸۵) عربانو پخپله ژبه کښـي له دې کلمې د ( هنرمنه ) مصدر جوړ کړی وُ ( تعلقات هند وعرب ۲۷۸ ) مسعودي عربي گرزندوی او مؤرخ په همدغه ښار کښي یوه بله کلمه هم واورېده (بیاسره) دی وايي چي دلته لس زره عرب اوسي او دوي پـه دې نامه بلل کیږي ځکه چي دوي مسافران او له خپله وطنـه لیـري دی نو بې اسرې او بې وزلي دي بې اسرې کلمه پښتو کلمه چـي د هغـه وخت په مدني اصطلاحاتو کښي داخله وه عربو بیا سره وکړه.

پښتنو د ښار خلکو ته ښاریځ ویل چي د ښار کلمـې تـه منسـوب وو دا کلمه په مدني تداول او مبادلاتو کښي په عربـي شـهریج او جمـع شهاریج سوه چي د ښار اوسېدونکی دي دا کلمه پـه مـروج الـذهب او

تاريخ يعقوبي او التنبيه و الاشراف کښې راغلې ده، دکتاب الاغاني خاوند ئې دابي الاسد الحماني په يوه شعر کښې چې د مهدي خليفه معاصر وُ داسي راوړي :

نحن الشهاريج واولاد الدهاقين

( ۱۲ ټوک ۶۷۶ مخ )

د پښتو دغه ادبي او لغوي مثالونه چې ما د نمونې په ډول يو خوراوړل زرکاله دمخه د پښتو منلی موقف د آسيايي تمدنونو په انتقالاتو او انديښنو او ژواکونو په لېږدنو او اليشونو کښي راښئي.

که ددې څېړني د اوږدونې وخت واي ما به ډېر داسي نوري خبري هم دلته راوړي واي چې زموږ پښتنو وروڼو ته لاتراوسه هم نه دی معلومي.

تر اسلامي دورې راوروسته چې موږ د پښتو منضبط ادبي آثار لرو لکه دمخه چې مي وويل د روحاني سندرو او حماسي ټوټو په ډول د ايشيا په ادبي بقاياوو کښي د ويدا او اوستا او شاهنامو له پاتو سندرو او وياړونو سره څنګ پر څنګ ځي او بيا چې په دې سيمه د سامانيانو او غزنويانو په دربارونو کښي دری ژبه رسمي او علمي او ادبی ژبه کيږي نو موږ ګورو چې د منځنی آسيا ادبي غورځنګونو پر پښتو ادب باندي دوني اغېزه کړېده چې د خپلو پښتني او معنوي او بلاغي خصوصياتو سره د غزنوي دربار د قصيدو په ډول داسي ستايني او وياړني لري چې که ئې د نورو ژبو د ادبياتو سره پرتله کو ډېري ښېګڼي به پکښي ومومو.

د قصيدې ښيګڼي چې په فني او بلاغي لحاظ د غزنوي دربار په شاعرانو کښي منلی سوي وي تشبيب او حسن تخلص او د ممدوح د صفاتو شمېرنه او غټونه او د مناظرو ستاينه او ښکلونه او د جمال او

ښکلا تصویرونه وه. د غزنـوي اوغـوري دورې بـوللي یعنـي قصـیدې ټول دغه صفات اوخصایص لري د منځنۍ ایشیا د قصـیدوي ادب ټـول رسمونه او دودونه اوغوره انځورونه پکښې راغلي دي او پښتـو ادب ئـې په بشپړ ډول د دری او یا عربي ادب پـر لاره رهـي کـړی دی، او هغـه ټول ارزښتونه چې د غزنویانو د دربار د درباشي او طلا بخښنو پـه سـبب د دری ادب په برخه سوي وو پښتو ادب هغه ټول په ځان کښـې سـره رانغښتي دي خو ځیني داسي خواوي اوارزښتونه هم لري چې هغـه په دري قصیده کښې نسته یا لږدي مثلاً : د فرخي دویرنـي ( رثـاء) هغـه قصیده چې دده شهکار ګڼل کیږي :

شهر غزنین نه همانست که من دیدم بـــار
چه فتاده است که امسال دگر گون شد کار

په دې قصیده کښې د منظـر ښکـلا د ښـاري خلکـو د ویـر سـاندي او تاءثرات او نور ډیر موثر مضامین سره راټـول سـویدي تـر دې ځایـه چې شاعر د ځان په غم هم اخته دی چې مړه سلطان محمود ته وایي :

شعراء را بتو بازار افروخته بـــود
رفتي وباتو بیکبار برفت این بازار

دا خو یوه شخصي تحت الشعوري داعیه ده چې فرخي ئې په رثایي قصیده کښې پخپل غم هم اخته کړیدی مګر کومـه قصـیده چـې شیخ اسعد سوري د ( ۴۲۵ ه) په شاوخوا کښې دمحمد سوري په ویـر کښـې ویلې ده:

د فلک له چارو څه وکړم کـــوکار
زمولوي هر ګل چي خاندي په بهار

دا قصیده د ډیر ادبي ارزښتونو سره او د دری د ادب تـاثیرونو لـه قبلولو سره سره پښتني خصایص او داسي ښېګني لري چي د پښتو ادب

موقف ته په ایشیایي شاعري کښې یوه خاصه جوله ورکوي او په پای کښې خپله پښتني خصیصه داسې ساتي :

ته پر ننګه ولاړ په ننګ کې مړ سوې
هم پر ننګه دې په ننګ کا ځان جار
که سوری دې په تګ ویرکاندی ویرمن سول
هم به ویاړي ستا په نوم ستا په تبار

ګوري دلته شاعر له شخصي او خانداني ویره ځان باسي د شعر او د ښندنو او چړچو په غم کښې هم نه دی، پر مرګ باندې ننګ ښه ګڼي او په داسې مرګ ویاړي او دا هغه ارزښتونه دي چې د پښتو ادب یې په اسیایي ادب کښې له ځانه سره ساتي.

د ښکارندوی غوري قصیده د (۵۸۰ ق) حدود هم د بلاغت او منظر نګاری لوړ تخیل په لحاظ یو شهکار دی او ښایي چې ساری ئې مونده نه سي :

هر پلو د ګلو وږم دي لسونلي
ته وا راغله له ختنه کاروانونه

د غزنوي دورې په منځ کښې دري ادب بیله ستاینې او قصیدې ځنې نور خصایص هم وموندل ناصر خسرو بلخي فلسفي تفکر او سنایي غزنوي د عرفان او تصوف او اخلاقو پانګې او شیخ عطار او مولانا بلخي په افسانه او داستان کښې دین ، اخلاق او عرفان او د ژوندانه اسرار په څرګنده یا رمزي ژبه بیان کړل، غزل او د میني سندري او رباعي او نوري معنوي او ظاهري ښېګڼې د منځنۍ آسیا په ادبیاتو کښې پیداسوې په دې ټولو کښې هغې د ښکلا مفکوري او د تصوف روحیې کار کاوه چې انسان د ښکلا له اصلي منبع او جماله راجلا سوي دی او بیرته هغه جمیل منبع ته ارتقاء کوي د مولوي بلخي

مثنوي او د نورو عارفانو اثار اکثر پردغه نظریه بناء دی او دا یو معنوي فکري ارزښت دی چې :

کز نیستان تامرا ببریده اند
از نفیرم مرد وزن نالیده اند

پښتو ادب د آسیایي تفکر دغه ارزښت تر آخره ساتلی دی، او د شیخ متی خلیل یوه عرفاني ترانه ددې جمالي مفکورې بهترینه او بلیغ ترینه ترجمانه ده چې وایي :

له لمر روښانه مخ ئې سپین دی یا دسپوږمیه تندی وزین دی
که غر دی ښکلی پرتمـین دی لکه هنداره مـخ د سین دی
ستاد ښکلا دا پلوشه ده
دایي یو سپکه ننداره ده
(پټه خزانه)

په دغه دوره کښې چې موږ ئې د پښتو ادب منځنۍ کړۍ ګڼو د نظم قسمونه او ډولونه او هم نثر پراخ سویدی چې هم دکیف او هم د کیفیت له پلوه د قدر وړ دی، محتوی او قالب دواړه ښکلي او متنوع سوي او د رنګ اوخوند په ګینو پسوللیٔ سوي دي د تذکرې لیکلو فن هم کټ مټ هغه وخت شروع سویدی چې عوفي لا د لباب الالباب دری تذکره په هند کښې نه وه کښلې، د سلیمان ماکو پښتو تذکره په ۶۱۲ ق او د غوفي دا په ۶۱۸ ق شپږ کاله وروسته کښلې سویده خو چې تاریخ سوري او اخبار اللودی او لرغوني پښتانه او نور کتابونه هم تالیف سول او د نثر کښلو بولګې هم مومو نو دلته د پښتو ادب ارزښتونه هم ډیرېږي اونوی مفکورې او جهاني اندېښنې او فلسفې اوفکر او ډول ډول رنګونه مومي. د دوږخ تصویر په آریایي روایاتو کښې د اوستا له وختو را روان دی، دوژانګه بد ځای او د نتلو او ترټلو تون ؤ ددې

تصویر رابطه له یوې بلي دنیا سره وه، رابعه کومه پښتنه شاعره چې د ۹۲۰ ق په حدودو په کندهار کښي ژوندۍ وه دا قدیم آریایي تصور دې دنیا ته راګرزوي چي :

آدم ئې مځکي وته راستـــون کا
په اور دغم ئې سوی لړمـــون کا
دوږخ بې روغ کار پرمخ دمځکي
نوم ئې د هغه دلته بېلتـــون کا

( پټه خزانه ۱۱۵ )

د پښتـوادب یـوه غـوره او د څېړني وړ برخـه هغـه یـو اجتمـاعي سوسیالیستي غورځنګ ؤ چي د ۸۲۰ ق ۱۴۱۷ م په شاوخوا کښي د شیخ ملي یوسفزي د دوتـر پـه وسـیله د پښتـو د اجتمـاعي ژوندانـه کښـي پیداسو، د شیخ ملي دوتر د پښتنو یو ادبي او قانوني کتاب ؤ چي ددوی د ژوندانه لاري چاري او د مځکو او کلو او کروندو وېش ئـې پـه داسـي ډول کاوه چي د فردي ملکیت لاره نه وه، او د ټول د ثـروت منـابع او مځکي او اور شووي او کلي د یو اجتماعي ملکیت وو، چي پسـله هـرو لسو کالو به بیا نوی ویش کېدی.

مګر افسوس چي وروسته د مغولو د فیوډالی نظام تر اثر لاندي دا اجتماعي مفید نظام ورک سو اوهرچا چي به مځکه قبضـه کـړه نـو د شیخ دوتر به ئې هم وسواځه تـر دې حـده چـي خوشـحال خـان پـه وخت کښي هم دوتر ښکاره نه ؤ او خلکو به پټ ساته :

په سوات کي دي دوه څېزه که خفي دي که جلي
یا مخزن د درویزه دی یا دفتر د شیخ مـــــلي

تر هغه ځایه چي د شیخ ملي د دوتر ځیني نقلونـه او روایـات پـاتي دي خو داسي ښکاري چي دغه اجتماعي د ګډ ژوندانه حرکت تر اوس

شپږ سوه کاله دمخه په پښتو ادب کښي پیدا سوي او دا هغه وختونه وو چي په اروپا او آسیا کښي د لویو امپراتوریو د برم او جلال او د فیوډالیزم د عروج دوره وه.

د شیخ ملي د اجتماعي ګډ نظام بقایا تر هغو وختو پوري د پښتنو په اقتصادي لارو چارو کښي پاته وو چي په ۱۸۶۹ م کال انګریزي استعمار د شخصي ملکیتونو کرغېړن نظام راوړی او مځکي ئې د افرادو او لویو فیوډالانو په نامه کړې، او د (بندوبست) په نامه ئې د خپل استعمار دګټو لپاره د پښتنو هغه مشترک اجتماعي نظام ورک کی او دې فاجعې د پښتو ادب دغه د افتخار وړ روڼ باب هم ورسره لاهو کی.

د پښتو مهم موقف د منځنۍ آسیاپه ادبي جریاناتو کښي مورږ دلته هم اټکلولای سوای چي د لسمي پېړۍ په منځ کښي د بایزید روښان غورځنګ او دده پښتو خیرالبیان راپه یادکو. که د دوتر خطي نسخه اوس پاته وای، او بیا نو مورږ د خیرالبیانه سره ملګرې کړې وای ښایي چي د افغانستان په تاریخ کښي ډېري پټې او نالځي خبري راته څرګندي سوي وای مګر اوس مورږ د خیرالبیان فقط یوه نسخه لرو او هغه دا راښئي چي د پښتو ادب حقیقي ارزښت هم دادی چي د ابتداء څخه دژوند لپاره استعمال سوي او د ژوندانه په ښېګڼو کښي اړم دي.

د پیرروښان غورځنګ هم ادبي پلو درلود هم ملي او مجاهدانه حرکت وُ، چي وروسته ئې د شېرشاه سوري غورځنګ په هند کښي او د خوشحال او ایمل غورځنګ په پښتونخوا کښي او د شېرخان ترین او میرویس خان غورځنګونه په کندهار کښي وزېږول او د ایشیا په زړه کښي ئې داسي ادبي او ملي غروځنګونه پیدا کړل چي د هند او ایران او ماوراء النهر پر سیاست او تمدني او فکري حرکتونو باندي ئې درانه

اثرونه وکړل، او پښتو ادب ددې سيمي په ادابو کښي يو د افتخار او د يادوني وړ ځای وموند.

د اخوند درويزه په قول روښان لښکري ټولوی چي هندوستان بيا ونيسي او د پښتنو د تير او هير عظمت ستوري بيا وځلوي ده به ويل :

زه پادشاه دپښتانه یم پښتانه راپسي ځي
زه به ماته دسيکری دروازه کـــــــــړمه
( مخزن ۳۲۳)

آيا دغه مفکوره نه وه چي وروسته شير شاه سوري همايون د بابر زوی له هنده وتښتاوه او د هند په تمدن کښي ئې داسي مدني او کلتوري او اداري اساسونه ټينګ کړل چي وروسته د پرديو اواتګرپزانو د سلطنتو لپاره سرمشق وو، او دا د پښتو هغه ادبي حرکت وُ چي پير روښان ئې زږي وپاشلې او شيرشاه د لوي هند مدني حرکتونه پر هغه لاره باندي بوتله.

د پښتنو لوديانو او سوريانو اوغلجيانو او نورو حکمرانو کورنيو د هند په مدنيت او ادب کښي داسي پښتني اثرونه ګډ کړل چي د پښتو ژبي په سوو لغتونه په هندي ژبو او ادب ورګډ سول، او زموږ د کلتور ډيري نخښي تر اوسه لاهم په هندي ژوندانه کښي ځرګنديږي په پښتو نهر ته واله – وياله – بياله وايي کله چي پنجاب ته ولاړل دوي ډيري ولې وکښلې چي تراوسه هم په هغو پښتو نومو (والا) بللي کيږي لکه حسين والا يا تور بيله چي په اصل کښي توره بياله ده او داسي نور مثالونه ما دمخه هم راوړل. تر دغو ټولو حرکتونو وروسته د يوولسمي پيړۍ په وروستي نيمايي کښي په پښتو کښي د خوشحال خان او دده دکورنۍ لوي ادبي غورځنګ راپيداسو چي زموږ د ژبي د ادبي ترازو پله ئې ډيره رالوړه کړه، او ډير نواقص ئې پوره کړل، او ډيري غوري

نوي پانګي ئې پکښې زیاتي کړې، او د پښتوادب ئـې ددې وړ وګـرزاوه چـي ددې سـیمي د هنـدي یـا دری ادابـو سـره سـیالي وکـي. د خوشحال خان شعر ښکلی محتوی او هم زیبا او پـه زړه پـوري فـرم او قالب لري سخن آفریني ئې دوني ارته ده، چي لـړ نـاویلي مضـامین بـه ځني پاته وي، ده خپل هنر هم د ژوند لپاره وټاکه او هم ئې پخپله هنـر وروزه.

ترخوشحال راوروسته بـه مـوږ تراوسـه پـه سـوو شـاعران او ددوی پښتودیوانونـه او دشـعر مجمـوعې ومومـو، چـي د هنـري شـاعری او ایډیالیزم څخه رانیولې بیا تر اوسـنیو مترقـي او مفکـورو او ریـالیزم او ډرامو اوافسانو او ډیرو نوو حیاتي موضوعونو پوري پشپړه ذخیره لـري او دا د مځنی آسیا په ادبي پانګه کښي یو د قدر وړ ځـای نیـولای سـي، مخصوصاً چي تر نونسـم قـرن راوروسـته پـه آسـیایي اولسـونو کښـي د ژوندانه او آزادی نوی حرکت پیدا سو نو د پښتو شعر او ادب خو اکثـر د حیاتي مقصدونو لپاره استعمال سو مګر خبره خـو داده چـي ادب او شعر لکه په ژوندانه پوري چي اړه لرې، یوه د اسـماني او جمـالي منبـع مشترکه سرچینه هم لري، آرټ د فطرت د جذباتو او ولولو ترجماني ده او دا په حقیقت کښي د پیـاوړی جمـال اوغیبـي ښکـلا یـو انعکـاس او څرګندونه ده، شعر د الفاظو او معناګـانو ښکـلا ده، موسـیقي د ږغونـو اونغماتو ښکلا ده، مصوري او نقاشي د خطوطـو او اشـکالو ښکـلا ده، د ایډیالیزم طرفداران د هنر له پاره یوه د الهام غیبي سـرچینه فرضـوي او ټول ارټستیکي الهامونه اولیاقتونه له دغي سرچینې څخـه راوتـونکي او جاري کېدونکي ګڼي.

وایي چي د یونان اساطیري سندرغاړي امفیـون د ژوبتیـر زوی د تب د ښار د ودانولو پروخت په داسي سحرناکو ږعو خپل ارغنون واهه

چې ډېری اوکاږي په چودل او شاعر ته ئې راځغستل او ده به د کلا په جوړولو کښي کارول. د ژوپیتر لور (موس) هم د شعر داسي یوه الهه وه چې شاعرانو به ددې د جلال اوجمال له لوړه عرشه الهامونه اخیستل.

د شعر دایډیالیزم قدیمه اسطوره دغه ده مګر کله چې په دې نـژدو پېړیو کښي امانو بل کانت جرمنی مشهور پوهاند د خیالیت دغه مکتب په مرتب ډول وپرانست دی وایي چې هنـر پخپلـه مطلـوب او بالـذات مقصود دی، نه دکوم بل مقصـد لپـاره ، دغـه یـو مجـرد اوغیـر مـادي دینامیزم دی که څه هم د دنیا انسانان په نژادو، جنس او وینه او دین او فکر کښي سره بېل دي مګـر ددوی شـعر اوهنـر یـو ډول وحـدت او د معناګانو تجانس و د افکارو هم آهنګي لري یوشرقي مفکر هم وایي :

گلي از باغ وفا ریختـــــــه اند
واز نسیم نفس آویختـــــــه اند
گوش را آمد وبویش به مشـــــام
سخنش کرده لب نـاطقـــــه نام
طبع ما خرم از اندیشـــــه اوست
خرم آنکس که سخن پیشه اوست

مولوی بلخی خو شعر فقط د (روح د اوبو مېوه) ګڼي :

آب حیوان خوان مخوان این راسخن
روح نوبین درتن حرف کـــــــهن
شاخهاي تازه مرجـــــان ببین
میوه هاي رسته زاب جـــان ببین
( مثنوي)

د پښتو ادب یوه غټه برخه تر لسمي پېړۍ پوري لکه د نورو ګاونډيو ژبو ادب د ايډياليزم پر موږي را څرخېده د ميتا فيزيک يا روحانيت يا د تصوف او دين او تجرد او رهبانيت رنګونه پکښي برېښېده، که څه شي د ژوندانه سره اړه درلوده هغه د ادب حماسي خوا وه، هغه هم په يو خاص مبالغوي چاپېر کښي چي په ژوند کښي ډېره لږ په کار راتله. تر ډېره وخته پوري د پښتو ادب په ګاونډيو ادبو پوري مربوط د کليم اوطالب اوغني اوفيضي او نورو د خياليت د ترکنازانو پر نيلي سپور راتي داکثرو شاعرانو شعر او هنر د هنر لپاره وُ، زه چي د خوشحال خان دا ښکلي او ښوا بدله لولم دی تش د نفاست او هنر او نازکخيال تکړه فنان ګڼم او خداي زده چي خوند روحي هم څني اخلم :

ستا وصال لکه درياب دی زه ماهـــــی
په هجران دي هر زمان دی په ما ، هـــــی
په ژړا مي څني خواست دسپيني خولي کړ
په خندا ئې وې چي څه کا دا ســـــړی

دا بدله دوني خوږه ده چي په لوستلو ئې خوله هم ورسره خوږېږي مګر دا بيت ئې تر ټولو انسان د خيالي دنيا په خوندونو کښي ډوبوي :

چي ئې ونيسم په غېږ کښي راته ګوري
لکه مست دمور په پيو کم کـــــبلی

په پاي کښي وايي :

اورنګزيب به دکابل د خلل غــم کا
ساقي وخت د نوبهار دی راوړه مي

د خوشحال خان په لوی ديوان کښي به تاسي دغسي روحي اوخيالي تفکهات او خوله خوندونه ډېر وموبی، او اته زره بيتونه داسي دي چي فقط د آرټ په مجرد او غير انتفاعي اړخ پوري اړه لري، او

سړی داسي فکر کوي چي یو تش ایډیالوجست او خیـال پرسـت شـاعر دی. مگر دانسان ژوند خو یوازي پر خیالي دنیا او غیر عملي تصوراتو نه دی ولاړ :

په تصور مي ځان پاچا کی
سر مي راپورته کی ملنگ د دوهی ومه

دا دوهي ملنگ که هر څوني پخپله خیال پرستی کي محوه سي مگر ادب خو د ژوندانه ترجمان او د انساني مادیت مل دی، هر څـوني چي حسي او تجربي فلسفه خپره سوه او انسان د خپلي خیال پرستۍ په اجتماعي ناروغیو پوه ؤ دغوني د ادب مخه لـه خیالیتـه راوگرځېـده او ریالیزم پر خوا روان سو.

انسان ولیدل چي حقیقـت او ایجـابي فلسـفه او د عمـل او کـار او مادي تفاعلاتو انتفاعي خواوي ترخیال پرستۍ ډیري دي او پـه دې اړو دوړ کښي آرټ او هنر هم یو مادي او انتفـاعی الـی مخلـوق دی دغـه وزن او آهنگ چي د شعر اوموسیقۍ او هنر اساس دی او هم نقاشـي او رقص او سرود اوټول ښکلي صنایع د انسان دکار اسانولو لپاره دي.

د ایډیالیستانو دا جگړه خورا اوږده ده، او د دواړو خواوو دلایل هم ډیر دي، خو ترکومه ځایه چي د پښتو ادب په تحلیلي او تاریخي تکامل اړه لري، اوموږ دا وغواړو چي په پښتو ادب کښـي د خیـال پرسـتۍ او حقیقت خواوي سره راوڅېړو باید داسي ووایو چي ژوند یو حرکت او فعالیت دی او ادبي ژوند هم ددغه حرکته سره پرانقلابـي لـور ملگـری دی انسان د تکامل پر خوا پـه بېـره روان دی او ادب هـم ددغـه تکامـل لپاره یو مترقي عنصر او آلی وسیله گڼلـه کیـږي او پخپلـه آرټ د ارټ لپاره نه دی بلکي هنر د ژوندانه خادم دی، د کار آله ده او د انسان پـه طبقاتي ژوندانه کښي د یوې موثري وسلې په ډول استعمالیږي.

د پښتو ادب د ارزښتونو په پرتله کولو، اندازه کولو کښي مونږ اوس ناچاره یو چي ددې ادب مادي او انتفاعی او طبقاتي خواوي هم را وپلټو.

د پښتو ادب لکه ګاونډی نور ادبیات یوازي د بډایانو د مانیو او عیاشانو د بزم او صله خورو شاعرانو د لاس آله نه وه دا ادب په شفاهي او نالیکلی ډول دکوچیانو په کږدیو او د خوارانو په کوډلو او د اوبو وړونکو پېغلو په ګودرونو او د عوامو په اتڼو او مېلو اوچړچو او د جګړو په میدانو او سنګرونو کښي استعمالیدی پخپله غائي مقصد نه ؤ بلکه آله او وسیله وه.

په تور توپک ویشتلي راسی
دبې ننګۍ احوال دي مه راځه مینه

خوشحال خان خټک ادب د ادب دپاره او هنر د ښکلا دپاره خوا استعمالاوه مګر د علامه اقبال په قول دی یو افغان شناس پوهاند هم ؤ د خپل قوم د ژوندانه اسرار ئې سره راخبرلي دي او د سوشل سایکالوجست جوله غوره کوي دده انتقادي ژبه ګزارونه کوي :

زما ژبه نه ده اور ده
ګزارونه د توپک کا

وګورئ پښتانه د یوه ځانګړي قوم په حیث چي هم تاریخ لري هم د حکمدارۍ سوابق لري هم جغرافیي چاپېر او هم طبیعي تولیدي منابع لري د خوشحال خان په قول :

اوښ د باره سره کـــــــورته ورغلی
په اولجه د اوښ دغاړي دجرس دی

دی که څه هم یو فیوډال خان دی مګر د ریالیزم په دنیا کښي دا کار سبوعیت ګڼي او وایي :

دا چي خانان دي یا امراګان دي
په هند کي ګرزي په هر مکان دي
غوښي هډونه د مظلومانو خوري
زما تر فهـــــــم واړه ددان دي

دده د عصر پاچا اورنګزیب یوعجیب غوندي سړي ؤ ده بـه د ثـواب لپاره قرآنونه په خپل قلم کښل او په زهد او تقوا کښي دوني ریاکـاره ؤ چي ټول عمر ئې تسپې اړولي خو په اجتماعي اعمالو کښي دوني تـور اوظالم او بدنام ؤ چي پلار او ورور ئې ووژل خوشحال خـان دا اوضـاع او د اسلام دا پاچا داسي غندي :

ددې دور شېخان ډېر دي لور په لور
اورنګزیب پادشاه د واړو دی انځور
په هغه چاړه قلم سازکا قرآن کښي
په هغه چاړه ښارګ پري کا د ورور

زموږ په پخواني پښتو ادب کښي مادي او انتفاعی برخه بیله اخلاقي او روحاني مضامینو لږ وه د خوشحال خان په ادب کښې نیمـایي برخـه ونیوله او وروسته هم ځینو شاعرانو اولیکوالـو لـږو ډېـره توجـه ورتـه وکړه، رحمان بابا ، حمید، پیرمحمد، احمدشاه بابـا او نـورو شـاعرانو پخپله خیالي دنیا کښي ځني حیاتي او مادي مطالب او انتفاعی برخـي هم لري چي دوي د ایډیـالیزم لـه مجـردي دنیـا ځخـه د ژوندانـه او مادیت ډګر ته راباسي خوشحال وایي :

د مزرویو مړنتوب په لښــکر نه سي
مټ یې هر کله یوازي پخپل ځان سي

**عبدالقادر وايي :**

نښانه د خدای د قهر بد حاکـــــم دی
چې هیڅ عدل انصاف نه لري ظالم دی
په هر لوری کا د ظلم لمبې بلـــــــې
پکښې زړونه د عالم کا جلې بلـــــې

ظالمان ځان وجهان لره بـــــلا دي
هغه خوار سول چې په ظلم مبتــلا دي
**( گلدسته)**

**د خوشحال خان په کورنۍ کښې ډیر ایډیالیسټ او د هندي سـبک پر خیال پرستۍ مین شاعر کاظم خان شیدا دی، خو دی هم کله کله د خپلې خیالپرستۍ په نشه کښې اجتماعي اوانتفاعی مضامین لري لکه:**

افروخته یې وي محفل په شان دشمــعې
چې سوخته دبل په کار کې خپل دماغ کا

**حمید چې وغواړي جدي اجتماعي مطالب سره ویـې نـو پخپـل شاعرانه قوت هغو ته هنـري رنـګ او اداء ورکـولای سـي او دا هنـر د دری ژبې د سبک هند شاعران هـم لـري مـثلاً صـائب د نتلـو سـره د مرستې سپارښت په داسې شاعرانه ژبه کوي :**

تیره روزان جهان را بچراغی دریاب
تا پس از مرگ ترا شمع مزاری باشد

**حمید دانسان د سعی اوعمل نتیجه په دې ادبي پیرایه کښې بیانوي:**

څو شبنم غوندې شبګیر په سر وانه خلې
د ګلرخ سره به نه سې هـــــــم آغوش

**احمدشاه بابا خواکثر د صوفیانو شاعرانو پر لار باندي ځي مګر کله چي د حقیقت پر میدان د ډهلي تخت نیسي هلته داسي بډغ ځني کیږي چي دده ټول صوفیانه تخیلات ورمینځي :**

د ډهلي تخت هېرومه چي را یاد کړم
زما دښکلي (پښتونخوا) دغرو سرونه

**پیرمحمد کاکړ خو د خیالیت په زړه خوښوونکو تصوراتو کښي د محبوبي د پالنګ ښکلا او د هغې پر ځنګ را اوښتل په داسي ژبه اداء کوي چي د تخیل عالي پوړ په یوه ډېره مادي تشبیه سره خرګندوي :**

محبوبا پر پالنګ واوښته له خـــوبه
که هوسۍ وه د بهار پر ګلو رغښته

**همدغه پیرمحمد چي کله وغواړي خپله د زړه مینه او درد د نورو دردمندانو او ویرژلو سره ښکاره کي نو داسي معني آفریني کوي :**

بېلتانه په غم شریک کړم دغم جنو
د هرچا په غاره ژاړم لــــــکه نی

## لمن لیکونه

۱. دو – گا ابدال عام دی لکه وشتاسپ او گشتاسپ یا وستاخ او گستاخ. د گوند وفر کوشاني نوم همدغسې دی گونده په پښتو عظیم او ټینګ ته وايي، او فرد دري پخوانی فر او خوره یا فرایزدي دی دلته گونده په وینده اوښتی دی او فرن د توصیفي (ن) په الحاق د فرخاوند دی.

۲. ورمه مجله، ۱۳۵۴ کال، د مرغومي، سلواغې او کب گڼه، ۱_۱۹ مخونه.